مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی ۲۰۲۳/۰۸/۱۸

# غزل

زما د احساس او د سکون تنده دې ماته نه کړه
وايي سمون خو د سمون تنده دې ماته نه کړه

د محکومیت درني ځپيرې ما په مخ خوړلي
د خپلواکی او د ژوندون تنده دې ماته نه کړه

د تصوّر په لباس پټ زما خيالونه غواړې
چې ځان پيدا کړم د لټون تنده دی ماته نه کړه

چې ريپيدو نو هسک آسمان پرې ښايسته ښکارېدو
د تور اور سور او د زرغون تنده دې ماته نه کړه

نور نه نازيږي پسرلی ستا په اوچته شمله
چې د پښتون او د پښتون تنده دې ماته نه کړه

مصطفی پسرلی
16/August/2023


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ